# د کابل قاتل

ټول افغانان يی بُنيادګربولي
لوی او واړه يی دهشتګربولي

د هرچاکوريی په توپونوويشتی
ځکه يی واړه ويرانګربولي

د اويا زرو کابليانو قاتل
ځان د هرچاد زړګي سربولي

هاغه چی هيڅوک پری اتبارنکوي
خپل ځان له ټولومعتبربولي

چاچی د واک پرسروطن وران کړی
هاغه اوس ځان زمونږرهبربولي

چاچی په هرپردي خپل ځان خرڅ کړی

نن ځان ترټولو شملور بولي

څوک چی د بل په زورواکدارجوړشوی

اوس ځان ترټولو زورور بولي

هاغه چی هرچاته یی زیان رسیږي

خپل ځان ترټولوګټوربولي

نن یی ولس په ضد قیام کړیدی

دلته یی هرڅوک ستمګربولي

الحاج الهام الدین قیام

11/04/2015